PASHTO

10 می 2024

## د Austin ابتدايي ښوونځي د څلورم ټولګي بې ساري زده کوونکی د Spelling Bee په نوم د املا ملي سیالۍ ته په ګړندۍ سره روان دی

د ښوونځي، ولسوالۍ او د دولت په کچه د Spelling Bee په نوم د املا ملي سیالۍ ته د چمتووالي پرمهال، د Austin ابتدايي ښوونځي د څلورم ټولګي 10 کلن زده کوونکي Sarv Dharavane د سلګونو ټکو هجې زده کړې پداسې حال کې چې دا یوه ننګوونې دنده وه چې پای یې بې ثمره نه و. د هغه بریالیو هڅو هغه د مارچ په میاشت کې د Georgia ایالت د ښوونکو د ټولنې 63مې کلنۍ سیالۍ د ګټلو جوګه کړ چې په جایزه کې یې د Maryland ایالت ملي بندرګاه ته په بشپړ ډول تادیه شوی سفر شامل و چې هلته به په ملي کچه د Scripps National Spelling Bee په نوم یوې تلویزیوني سیالۍ کې برخه واخلي. د یادې سیالۍ لومړني پړاوونه د می په 28 نېټه پیل کیږي. د ښه کارګردګۍ په صورت کې به هغه د می په 30 نېټه د یادې سیالۍ په نهایي پړاوونو کې برخه واخلي.

په دولتي سیالۍ کې، Sarv له دریم څخه تر اتم ټولګیو له 20 نورو داسې هجو کوونکو څخه سیالۍ وګټلې چې عمرونه یې له 10 څخه تر 14 کلونو ترمنځ وو.  هغه د خپلې بریا په اړه حیرانتیا څرګنده کړه.

هغه وویل چې "ما ټولو ته ماتې ورکړه." "دوهم مقام ګټونکی د اتم ټولګي یو زده کونکی و چې څلور ځله یې په دولتي ناسته کې برخه اخیستې وه، پخوا یې هم ملي سیالۍ کې برخه اخیستې وه او په پای کې یې دوهمه جایزه لاس ته راوړې وه."

د بریا لاس ته راوړلو سفر اسانه نه و. Sarv وویل چې د ښوونځي لخوا په سیالۍ کې ګډونکوونکو ته چمتو شوي د 450 کلمو لیست څخه د زده کړې پرمهال هغه د خپل ښوونځي د spelling bee په نوم د املا سیالۍ لپاره د چمتووالي په خاطر سخت زیار ایستلی. هغه له لغت څخه هم ډیری داسې کلمې زده کړې وې چې هغه په لیست کې نه وې. هغه د Word Club په نوم یو داسې اپلیکیشن کارولی و چې د هغه لخوا زده شوې کلمې یې په لیست کې نیولې وې، کوم چې د هغه د وینا له مخې د spelling bee په نوم د ولسوالۍ د املا سیالۍ په جریان کې له هغه سره په بشپړه توګه مرسته کړې وه.

Sarv وویل چې " په سیالۍ کې شاملې ټولې کلمې د هغه [Word Club] کلمو له لیست څخه وې".

هغه د 2024 کال د Georgia ایالت د Spelling Bee املا اتلولي د "dashiki" کلمې په سمه توګه املاء کولو سره وګټله. د هغه مور او پلار، Shailesh Dharavane او Shilpa Tupe، د سیالۍ لپاره چمتووالي کې له هغه سره مرسته کړې وه تر دې چې مور یې د دې لامل شوه چې هغه کتابتون ته لاړ شي او د لوستلو لپاره کتابونه غوره کړي.

د هغه پلار Shailesh Dharavane وویل چې "په دې کې شک نشته چې [Sarv] یو هوښیار هلک دی". "خو مور یې تر ټولو زیات زیار ایستلی ترڅو د هغه دې مقام ته رسیدل ډاډمن کړي."

Shilpa Tupe چې خپل زوی له انسائیکلوپیډیا سره تعبیروي وویل چې "موږ پر هغه ډېر ویاړو." "موږ هیڅکله فکر نه کاوه چې هغه به دspelling bee  په نوم د املا سیالۍ په لومړۍ هڅه کې ملي کچې ته ورسیږي خو موږ په دې پوهیدو چې هغه به خپله غوره هڅه په کار واچوي. هغه هیڅکله د سیالۍ ګټلو په اړه خبرې نه کولې. هغه تل ویل چې 'زه به په هره کچه خپله هڅه وکړم' او موږ په دې پوهیدو چې هغه به د دې توان ولري. "

په ملي سیالۍ کې ورته د بریا هیلې لرلو ترڅنګ د Sarv ټولګیوالو، ښوونکو او د Austin ابتدايي ښوونځي ادارې د می په 8 د هغه ګټه ولمانځله.

د Austin ابتدايي ښوونځي مدیرې Avis Mooneyham وویل چې "موږ ډېر خوښ یو چې هغه د spelling bee په نوم د املا ملي سیالۍ کې د ښوونځي، د ښوونځي ولسوالۍ او د ایالت استازیتوب کولو لپاره مخ پر وړاندې روان دی".

د لغت او نورو کتابونو په بیا لوستلو سره د spelling bee په نوم د املا ملي سیالۍ ته د ځان چمتو کولو پرمهال Sarv بیا اساساتو ته راستون شو. د سیالۍ لپاره د چمتووالي په خاطر هغه د خپلې د لغاتو ذخیرې تمرین هم کوي.

هغه وايي چې لوستل د spelling bee په نوم د املا سیالي ګټلو او په نورو فعالیتونو او ګټو کې د بریا لاس ته راوړلو لپاره خورا مهم دي. Sarv نور زده کوونکي د هغو کتابونو موندلو لپاره هڅوي چې دوی ورسره علاقه لري او ورځخه غوښتنه کوي چې د کتاب د پاڼو اړولو پرمهال د زده کړې، سپړنې او خوند اخیستنې له لارې د لوست سره مینه پیدا کړي.

Sarv وویل چې "خپل کتابونه، ټول کتابونه ولولئ." "که تاسو کتابونه ونه لولئ نو تاسو هیڅ یو مقام ته نشئ رسیدلی."

مورې Sarv او د هغه کورنۍ ته خپلې غوره هیلې وړاندې کوو په داسې حال کې چې هغوی د Spelling Bee په نوم د املا په ملي سیالۍ کې برخه اخلي. موږ به دوی تعقیب کړو او د دوی د هڅونې لپاره به چیغې ووهو.

XXX